# پوښتنې او ځوابونه

**د مرکزي ثبت نوی دفتر کومې دندې تر سره کوي؟**

د مرکزي ثبت نوی دفتر د شرکتونو د ثبتولو د یواځنی مرجع په توګه ګڼل کیږی. د ثبت او راجستریشن اړوند ټول فعالیتونه چې پخوا د تجارتي محکمو، د عدلیې وزارت او د مالیې وزارت له خوا تر سره کیدل اوس یوازې د دې دفتر له لیاری اجرا کیږي.

د مرکزي ثبت دفتر لاندې دندې تر سره کوي:

- د شرکتونو ثبتول
- د TIN یا د مالیه ورکوونکی د پیژندنی د شمېرې اخیستنه
- په رسمی جریده کی د شرکت د نوم خپرول
- د فیس ورکړه
- د جواز ورکوني اداری ته د رسمی مکتوب صادرول ( د اړتیا په صورت کی)

**ولی دغه نوی اداره مهمه ده**

د ثبت نوی مرکزی اداره د ثبت لپاره یوه نوی واحد مرجع ده چې د شرکتونو او سوداګریزومشاغلو دثبت آسنتیا یی په یوه اداره کی دافغان سواګرو لپاره برابر کړی ده. د ثبت په نوی اداره کی متشبثین کولی شی چی خپل تجارت ثبت کړی، مالی ورکونکی تشخیصیه نمبر ترلاسه کړی او خپل شرکت په رسمی جریه کی نشر کړی. هغه پروسه چې مخکی په ځو ورځو کی بشپړ کیدو اوس دوه ساعتونو نه هم کم وخت واخلی.

**کوم شرکتونه باید ثبت شي؟**

هر ډول شرکت ثبت کیدای شی.

**آیا بهرنی شرکتونه ثبت کیدلای شي؟**

هر هغه شرکت چې په افغانستان کی سوداګریزې دندې تر سره کوی کولای شی په دی دفتر کې ثبت شي.

**د کومو شرکتونو ثبت او یشن اړین ګڼل کیږی؟**

د افغانستان د اسلامی جمهوریت د قانون سره سم هر ډول شرکت باید ثبت کړای شی. سهامي شرکتونه او محدود المسوولیت شرکتونه باید د دې مرکز د پرانیستلو څخه وروسته، د یو کال په موده کی له سره ثبت شي.

**آیا انفرادی متشبثین باید خپل سوداګریزې چارې ثبت کړی؟**

انفرادی متشبثین چې د سوداګری یا پانګې اچونې د جواز د اخیستلو غوښتونکي دي باید خپل شرکتونه په یاد شوی دفتر کی ثبت او راجستر کړي.

**آیا شرکتونه باید هر کال ثبت کړای شي؟**

نه. شرکتونه باید یوازی یو ځلي ثبت شي. خو که چیرته د هغوی په سوداګریزو چارو کی بدلون راشی باید د دوهم ځل لپاره بیا ثبت شی.

**د کومو بدلونونو په صورت کې شرکت باید بیا ثبت شي؟**

د بیلګی په توګه، هر کله چې د شرکت ریس یا معاون بدلون و مومی، د ثبت او یشن په اړوندو اسنادو کی هم باید بدلون راشی. همدا رنګه دا ډول تغییرات په رسمی جریده کې هم باید خپاره شی. نور بدلونونه لکه د کړنو ځرنګوالی، په سوداګریزو چارو کې بدلون، د شرکت د موقعیت بدلون او داسې نور له هغو مواردو څخه ګڼل کیږی چې د شرکت د بیا ثبتولو پروسه ایجابوی.

**اوسنی دندې چې باید د افغاني شرکتونو لخوا تر سره شي، کومې دي؟**

سوداګریز شرکت باید د مالیه ورکوونکی د پیژندنې شمیره یا TIN هر کال نوی کړي. خپل مالي حساب له مالیی وزارت سره تسویه او کلنۍ مالیه ورکړي. د دې کار د ترسره کولو په موخه، سوداګران باید د مالیی د وزارت د مالیه ورکوونکي د پیژندنې شعبې ته مراجعه وکړي. دا کار د ثبت په مرکزي دفتر کې نه تر سره کیږی.

**که چیرته یو شرکت وغواړی خپلې سوداګریزی چاری ختمې یا بندې کړي، څه ډول ګامونه باید پورته کړی؟**

نوموړی شرکت باید خپل مالی حساب د مالیي وزارت د عوایدو په ریاست کې تسویه کړي. په رسمی جریده کی په دی اړوند د اعلان خپرول چې ۲ افغانی د یوتوري په سر بیه لري باید تادیه شي.

**آیا د شرکت د ثبتولو او د سوداګریز جواز اخیستولو تر مینځ توپیر شته؟**

هو. د قانون پر اساس، ټول هغه سوداګریز شرکتونه چې په افغانستان کی فعالیت کوی باید ثبت او شی. اما د سوداګریز جواز اخیستنه له دې نه توپیر لري. زیات شمیر سوداګریز شرکتونه په هیواد کی د دندو د ترسره کولو په موخه جواز ته اړتیا لري د بیلګې په توګه، د بارچالانی یا د سوداګریز شرکت جواز. د ثبت نوی دفتر د جواز ورکولو چارې پر مخ نه بیایی. د شرکتونو مالکان باید د جواز اخیستنی لپاره اړونده وزارتونو ته مراجعه وکړي. خو باید وویل شي چې په د ثبت په مرکزی دفتر کې د شرکتونو ثبتول د جواز اخیستنی کار آسانوي ځکه د شرکتونو د ثبت بهیر زیات وخت نیسی او ډیر لګښت پرې راځي. د ثبت د مرکزی دفتر کارکوونکي کولای شي د غوښتونکو په خوښه هغوی د جواز اخیستنې اړونده اداري ته ور وپیژني.

**د مرکزي ثبت نوی دفتر او د افغانستان د پانګی اچونی د ملاتړ د اداری (آیسا) تر مینځ اړیکه څرنګه ده؟ آیا د دواړو ادارو چاری یو شان نه دی؟**

د افغانستان د پانګی اچونی د ملاتړ اداره په هیواد کې د بهرنیو پانګه والو د جذبولو په لاره کې ارزښتناکه ونډه لري. د ثبت د نوی دفتر د رامینځ ته کیدو سره سره پانګه اچونکی اوس هم کولای شي د افغانستان د پانګې اچونې د ملاتړ اداري ته مراجعه وکړي او د پانګونې اړونده اړتیاوې د شرکتونو د ثبت د موضوع په شمول حل کړی. په دې اړوند هیڅ بدلون مینځ ته نه دی راغلی. د افغانستان د پانګه اچونې د ملاتړ د اداري کارکوونکی د مرکزي ثبت دفتر ته مراجعه کوي او نوي شرکتونه ثبتوي. د افغانستان د پانګې اچونی د ملاتړ د اداري کارکوونکی به له دې نه وروسته د پورتنیو پنځو ادارو په عوض یوازې یوې اداری ته مراجعه وکړي.

**کوم اسناد له ځان سره راوړو؟**

د خپل شرکت د ثبت په موخه، لاندی اسناد له ځانه سره راوړی:

۱. تذکره، یا پاسپورت که چېرته تاسو د کوم بهرني هیواد تبعه یاست
۲. د شرکت د ریس او معاون څلور قطعی عکسونه
۳. د اړتیا په صورت کې د شرکت اساسنامه

**که چیرې په سوداګریزو چارو کی مو بدلون راغلی وي، لاندی اسناد له ځانه سره راوړی:**

۱. تذکره، یا پاسپورت که چېرته تاسو د کوم بهرنی هیواد تبعه یاست
۲. د شرکت د ریس او معاون څلور قطعی عسکونه
۳. د شرکت اساسنامه

**که چیری غواړی خپل شرکت وتړی، د لاندی اسنادو راوړل ضروری ګڼل کیږی:**

۱. تذکره، یا پاسپورت که چېرته د کوم بهرني هیواد تبعه یاست
۲. د شرکت اساسنامه